

# لوګر

ماهنامه

میاشتنی خپرونه

Monthly Logar

چهارشنبه د۱۳۹۹ کال د مرغومي مياشتي دريمه، د ۲۰۲۰ عيسوي کال د ډسمبر درويشتمه **۴** پرله پسې ګڼه (۱۱۸) لومړی کال، اتمه ګڼه


## دمعلوليت لرونکو نړيواله ورځ ولمانځل شوه

دلیندی ۱۳ مه: د معلوليت لرونکو نړيواله ورځ د لوګر ولايت په مقام کې د ګڼ شمير معلولينو په شتون، د ولايت مقام د غونډو په تالار کې ولمانځل شوه، چې پکې د ولايت مرستيالې رابعې ستانکزی، ولايتي شورا غړي محب الله صالح، د شهيدانو او معلولينو چارو آمر صديق الله احمدزي او نورو مسؤلينو ګډون کړي ؤ.

يادې غونډې ته د شهيدانو او معلولينو چارو آمر صديق الله احمدزي د ښه راغلاست ترڅنګ د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت رالیږي پيغام ولوستل او همداراز د لوګر د شهيدانو او معلولينو اداري لاسته راوړنې، ستونزې او کلنی لنډ راپور يې د غونډې له ګډونوالو سره شريک کړ.

غونډې ته د معلولينو په استازيتوب ځوتنو هم په شته وو ستونزو او د معلولينو په حقونو خبرې اترې وکړې.



د ولايت مرستيالې رابعې ستانکزی معلولينو ته ډاډ ورکړ، چې د ياد ولايت رهبری ستاسو ستونزو ته د رسيدو په موخه د ولايت دروازه پرانيستې او دقانون په رڼاکې د هر ډول ستونزو لپاره دحل لارې به په ګوته شي.

ستانکزی وويل، چې دمعلوليت لرونکو کسانو لپاره دکار موندنې اوزده کړې په هڅه کې يو، چې دهمدې لارې معلولين وکولای شي، کار او خپلې زده کړې ترلاسه کړي.

## ساختمان دومکتب درلوگر به بهره برداری سپرده شد

پل علم باختر مورخ 13 قوس: ساختمان دومکتب ابتدایه درولسوالی بره کی برک و محمدآغه لوگر به تاریخ 13 قوس، به بهره برداری سپرده شد که برای چهارصدوپنجاه دانش آموز، محیط مناسب آموزش فراهم گردید. شاهپورعرب سخنگوی ریاست معارف لوگر به آژانس باخترگفت که ساختمان مکتب ابتدایه دستگیرکوچی درولسوالی بره کی برک وساختمان مکتب ابتدایه حاجیان درولسوالی محمدآغه لوگرازسوی برنامه اقرا ، به هزینه نزدیک به بیست میلیون افغانی دریک منزل به شکل پخته واساسی ساخته شده است، که با حضورمسوولین معارف به بهره برداری سپرده شد ، وی علاوه کرد که ساختمان این مکاتب ظرفیت سه صد شاگرد را دریک وقت دارا می باشد. این مکاتب دارای شش صنف درسی، چاه آب آشامیدنی وشامل سایرملحقات ضروری آن می باشد.

سخنگوی معارف لوگر گفت که درمکاتب یاد شده درحدود چهارصدوپنجاه کودک مصروف آموزش می باشند و تاحال دانش آموزان، درخانه های کرایی مصروف دروس شان بودند ، گفته می شود که تاهنوز هم ازمیان دوصد وهفتاد وسه باب مکاتب، بیست درصد مکاتب درلوگر تعمیر ندارد.

این درحالی است که ساختمان مکتب ابتدایه آخندخیل درولسوالی بره کی برک وساختمان مکتب ابتدایه آخندزاده درولسوالی محمدآغه لوگرازسوی برنامه اقرا ، چندی قبل نیز به بهره برداری سپرده شد.

## یک میدان ورزشی کرکت در لوگرساخته می شود

کارساخت یک میدان ورزشی کرکت درولایت لوگر آغاز شده است که با ساخت این میدان ورزشی آرزویی علاقه مندان کرکت و کرکت بازان ولایت لوگر برآورده میشود ودریک وقت گنجایش چهارهزارتماشاچی را خواهد داشت.

محمدامین احمدزی مسوول کرکت بورد لوگر به تاریخ ۶ قوس به آژانس باخترگفت: که ساخت این ورزشگاه درولسوالی محمدآغه لوگردر مساحت 30 جریب زمین ازسوی شرکت حیات هلمند وال به خوبی به پیش میرود ، آقای احمدزی علاوه کرد که این میدان به کمک مالی وزارت مالیه وشهرسازی در مدت یک ونیم سال ساخته می‌شود و ساخت آن، شصت وپنج میلیون افغانی هزینه بر می دارد. مسوول کرکت بورد گفت که یک اکادمی کرکت برای تمرینات نیز درکنار این ورزشگاه ساخته میشود .

وی خاطرنشان ساخت که درولایت لوگر بیش ازچهارده کلب کرکت راجسترمیباشد وچندماه قبل بازی های انترکلب میان کرکت بازان دراین ولایت برگزارشد که دربین بازیکنان چهره های برترشناسایی گردید.

درولایت لوگریک میدان ورزشی کرکت درمرکز این ولایت وجود دارد که مسوولین کرکت ازساخت آن به شکل معیاری درسال آینده نیز خبرمی دهند.

یکتن ازبازیکنان کلب کرکت زاهد آباد ولسوالی محمدآغه انجنیرحسن با اظهارخرسندی ازکارساخت این ورزشگاه می گوید که درولایت لوگر با وجود آنکه درجریان یکسال کرکت بورد سهولت های خوبی برای بازیکنان کرکت فراهم کرده است، اما اکثربازیکنان با مشکلات اقتصادی مواجه می باشند وباید دولت ورزشگاه ها واکادمی های بیشتربسازند. وی ازسرمایه داران وتاجران خواست که کرکت بازان را دراین ولایت حمایت نمایند.

بازی کرکت یکی از بازی های پرطرفدار در کشور است که دراین اواخردرولایت لوگر نیز طرفداران زیادی را به خود جلب کرده است .

## د معلولينو له ټولنې سره دګډې همکارۍ هوکړه ليک لاسليک شو

**دلیندی ۶ مه : د لوګر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست او په لوګر ولايت کې د معلولينو ټولنې ترمنځ د ګډې همکارۍ هوکړه ليک لاسليک شو.**

**په دې هوکړه ليک کې به د لوګر ولايت داطلاعاتو او فرهنګ رياست په يو شمير پروګرامونو کې معلوليت لرونکو وګړو ته ځانګړې ځای ورکوي او دوی ته به سهولتونه برابروي او دغه راز معلوليت لرونکي وګړي کولای شي د نورو قشرونو په توګه د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له چوپړتياوو څخه برخمن شي .**



**داطلاعاتواوفرهنګ رييس عبدالرحمن تسل وويل، چې د دې هوکړه ليک له مخې به د معلولينو ټولنې لخوا معرفي شوي معلولين د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په انګليسي، کمپيوټر او انټرنيټ کورسونو کې شامليږي او د غه راز د عامه کتابتون له کتابونو څخه به ګټنه کوي او د رياست لخوا هر پروګرام کې به د معلوليت لرونکو وګړو شتون او ګډون هم حتمي وي .**

**تسل معلوليت لرونکي وګړي ددې ټولنې اتل قشر ياد کړ او زياته يې کړه که دوی معلول دی خو ناتوانه نه دي، کار کولی شي او ښه فکر او مفکوره لري .**

**تسل د معلولينو ټولنې مشر شاه محمود حسين خيل ته ډاډ ورکړ، چې معلوليت لرونکو وګړو په وړاندې به يې د رياست دروازه پرانيستې وي او له دې قشر سره به داسې چلند کوي لکه نورو قشرونو سره چې کيږي او هيڅ توپير به يې په وړاندې شتون ونه لري .**

## هفده پروژه در لوگر به بهره برداری سپرده شد

هفده پروژه عام المنفعه دربخش های زراعت، منابع طبیعی، آبیاری ومالداری کار ساخت آن در جریان یکسال تکمیل و به تاریخ 16 قوس در حضور داشت والی لوگر افتتاح وبه بهره گیری قرار داده شد. عبدالله تسل رییس زراعت آبیاری ومالدری لوگر می گوید که این پروژه ها شامل شبکه آبیاری، احداث قوریه مثمر، خدمات صحت حیوانی، کانال ها ،اعمارسربندآب ،توزیع وایجاد 20 قطعه نمایشی زعفران، احداث وایجاد 1707 جریب باغات عادی، اعمار350 باب ذخایر(پیاز، کچالو، کشمش خانه) احداث قوریه جات ومراکزجمع آوری شیرمی باشد که در مرکز و ولسوالی های لوگر در ظرف یکسال به هزینه 318.6 میلیون افغانی به کمک مالی وزارت مالیه وکمک بانک جهانی ودونرها ساخته شده است .



آقای تسل علاوه کرد که کار ساخت هفده پروژه دیگر به هزینه یکصدوپنجاه وپنج میلیون افغانی در سال آینده در مناطق مختلف لوگر آغاز خواهد شد. برنامه که بدین مناسبت در تالار شهرداری لوگر تدویر یافته بود محمد اجمل شاه پور والی لوگر گفت: تطبیق پروژه های عام المنفعه نشانه تعهد دولت دربرابرمردم است، وی اضافه کرد که پروژه های حیاتی و زیر ساخت ها باعث رشد و ترقی یک ملت می گردد و باید مردم از پروژه های عام المنفعه حفاظت کنند و هیچ دشمنی را نگزارند تا جلو آبادی وپیشرفت را در کشور بگیرند ، والی لوگر علاوه کرد که با تامین صلح و همکاری مردم، کشور بیشتر بسوی رفاه و آبادانی خواهد رفت . این درحالی است که دوصد وپنجاه و هفت پروژه عام المنفعه شامل(کانال، کاریز، چاه آب آشامیدنی، اعمار وکانکریت ریزی سرک های فرعی، شبکه آبرسانی) نیز درحدود بیست روزقبل به بهره برداری سپرده شد ، اکثرباشنده لوگر درکنارتطبیق پروژه ها ازدولت می خواهند که درامر کیفیت پروژه ها نیز دقت بیشتر نمایند .

## د لوګر ښوونځيو ته څه باندې ۱۵ زره نوي زده کوونکي جذب شوي

دلیندی ۹ مه: د لوګر د پوهنې رياست ويانډ محمدشاه پور عرب وايي، د لوګر په شته ۲۷۳ ښوونځيو کې د روان ۱۳۹۹ ښوونيز کال پر مهال ۱۵۱۳۲ نوي زده کوونکي جذب شوي دي.

د ياد رياست لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، ياد نوي زده کوونکي د لومړنۍ دورې لومړيو ټولګيو ته جذب شوي دي، چې له دې ډلې شاوخوا ۴۱۷۷ يې نجونې دي.

د خبرپاڼې له مخې، د پل علم ښوونځيو ۱۴۸۷ نجونې او ۴۵۳۵ هلکان، د محمدآغې ولسوالۍ ښوونځيو ۱۸۰۰ نجونې او ۲۲۰۰ هلکان، د خوشي ولسوالۍ ښوونځيو ۲۱۳ نجونې او ۲۲۴ هلکان، د برکي برک ولسوالۍ ښوونځيو ۶۲۸ نجونې او ۱۳۸۰ هلکان، د چرخ ولسوالۍ ښوونځيو ۲۱۱ نجونې او ۸۲۰ هلکان، د ازرې ولسوالۍ ښوونځيو ۴۶۲ نجونې او ۸۶۰ هلکان او د خروار ولسوالۍ ښوونځيو يوازې ۲۲۰ هلکان جذب کړي دي.

اعلاميه وړاندې کاږي، د خروار ولسوالۍ په ښوونځيو کې د تېرو کلونو په څېر بيا هم د ناامنۍ او کلتوري محدوديتونو له امله هېڅ نجونې زده کوونکې جذب شوې نه دي.

د پوهنې رياست دمعلوماتو له مخې، په لوګر کې دا مهال د نجونو او هلکانو ۲۷۳ ښوونځي شته، چې ۷۵ لېسې، ۷۳ منځني او پاتې ۱۲۵ نور يې لومړني ښوونځي دي.

په ياد شمېر ښوونځيو کې ۱۴۰۰۷۰ زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې له دې جملې څخه ۴۰۵۹۸ يې نجونې دي.

تېرکال د لوګر په ښوونځيو کې شل زره زده کوونکي جذب شوي ؤ، خو سږکال دغه ارقام د تېرکال په پرتله پنځلس زرو ته راټيټ شوی دی .

ناامني، کلتوري محدوديتونه، بېکاري، کمزوری اقتصاد او ښوونيز نصاب د کرونا له امله شاته غورځيدل دا هغه څه دي، چې په ښوونځيو کې زده کوونکي د تېرکال په پرتله کم جذب شوي دي.

لوګر پلازمينې کابل ته په ۶۰ کيلومترۍ کې پروت ولايت دی، چې وخت ناوخته د جګړو او ناامنيو راپورونه ترې خپريږي او د ناامنيو له امله د لوګر لرو پرتو سيمو کې ښوونځي دهمدې ناامنيو له کبله ګواښ سره مخ وي.

## اطلاعیه ریاست حفاظت محیط زیست ولایت لوگر

با رعایت ماده پانزدهم قانون اساسی افغانستان و ماده بیست وهفتم قانون محیط زیست وتطبیق احکام شماره (۲۷۸۳) و (۲۷۸۲) مورخ ۱۴/۱۰/۱۳۹۸ مقام عالی ریاست جمهوری به منظور جلوگیری ازآلودگی هوا ، کاهش عوامل مخرب بر آن وحفاظت از محیط زیست سوختاندن تایر، رابر وپلاستیک غرض تسخین وتولید انرژی منع قرارداده شده است .

بناً تمام اصناف مختلف شهری مانند مالکین (حمام ها ،هوتل ها ،کلچه پزی ها ، نانوای ها ، داش های خشت پزی، مارکیت ها و دکانداران) شرکت ها و فابریکات که در فعالیت های کاری شان از مواد سوختی استفاده مینمایند ، مکلف اند تا آله تصفیه کننده دود نصب نموده و از سوختاندن تایر، رابر و پلاستیک غرض تسخین و تولیدانرژی جلوگیری نماید در غیرآن با متخلفین مطابق به قوانین نافذه کشور برخورد صورت خواهد گرفت .

## اطلاعیه قومندانی جلب وجذب ولایت لوگر

به اساس هدایات مقام محترم ذیصلاح دولت جمهوری اسلامی افغانستان پروسه جلب وجذب ساحوی برای قول اردوهای ساحوی آغاز گردیده است.

بناً به تمام آنعده از جوانان ولایت لوگر که خواهیش شمولیت درصفوف اردوی ملی را داشته باشند ودرقطعات جزوتام ها قومندانی محترم قول اردوی 203 تندر زون پکتیا ایفای وظیفه نمایند خبرداده میشود که علاقمندان واجد شرایط ذیل:

1 – تذکره تابعیت افغانستان را داشته باشند.

2 – سن آن از 18 الی 44 سال باشند.

3 – معتاد ، معیوب ومعلول نباشند.

4 – سابقه جرمی نداشته باشند.

5 – ازصحت کامل برخوردار باشند .

میتوانند همه روزه به شمول روزهای جمعه و رخصتی ها جهت شمولیت و مشوره دهی به قومندانی مرکز جلب وجذب ولایت لوگر مراجعه نمایند. مقام محترم وزارت دفاع ملی برای هرداوطلب تمام امتیازات ازقبیل معاش، البسه، صحیه و تعلیم وتربیه درمرکز تعلیمی بسیار مجهز فراهم نموده ومی نمایند.


لوګر Logar

د امتياز خاوند: لوګر اطلاعاتواوفرهنګ رياست

مسؤل مدير: شيرمحمد «اميني» ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

کتونکي ډله: عبدالرحمن «تسل»، امين الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»

خبريال: محمد موسی «عديل»

ډيزاينر: امينی «ستانکزی»

فيسبوک پاڼې: دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ رياست/www.facebook.com

لوګرمياشتنی/ www.facebook.com

يادونه: لوګرمياشتنی خپرونه دسرليکنې پرته؛ دليکوالانو دليکنو ننګه نه کوي اومسؤليت يې دليکوال پرغاړه ده.

که چيرې ليکنې لرئ چې په لوګرمياشتنی کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته يې را واستوئ.

داړيکې شميره: ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرښناليک پته: Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای: آزادی مطبعه